# د کوویډ-19 واکسین فایزر-بایونټیک، موډرنا، استرازنیکا/کوویشیلډ او جانسن

بیا کتل شوی په 30 سپتمبر 2021

## له کوویډ-19 څخه رامنځته کېدونکي خطرونه

کوویډ-19 یوه ویروسي او تنفسي ناروغي ده چې په عمده توګه سږي زیانمنوي. هغه کسان چې ډېر عمر او یا روغتیایي ستونزې لري کېدی شي د کوویډ-19 له امله سخت ناروغ شي. کوویډ-19 کولی شي زړه، سږو او ماغزو ته هم زیان ورسوي. ددې ویروس اوږمهاله علایم ستوماني، د نفس لنډوالی، په تمرکز کې ستونزه او د عضلاتو درد دي.

کوویډ-19 په دوامدار ډول نورو ډولونو ته بدلون مومي. ددې ویروس ځینې ډولونه ډېر ژر او اسانه خپریږي او د سختو ناروغیو لامل ګرځي.

## واکسین څرنګه عمل کوي

کوویډ-19 واکسین زموږ بدن ته هدایت ورکوي ترڅو هغه انټي باډي جوړه کړي چې د کوویډ-19 په وړاندې زموږ د بدن حفاظت کوي. په کاناډا کې منظور شوي درې ګوني واکسینونه باید دوه ځله (دوه ډوزونه) واخیستل شي. جانسن (جانسن انډ جانسن) واکسین یوازې یو ځل اخیستل کیږي. دا واکسینونه په خپل ترکیب کې کوویډ-19 ویروس نلري، نو ځکه په کوویډ-19 ستاسو د اخته کېدو لامل نه کیږي.

## د واکسین ګټې

د کوویډ-19 واکسینونه چې په کاناډا کې منظور شوي دي، 12 نه تر 18 کلونو عمر لرونکو، حامله ښځو او هغو ښځو لپاره چې ماشوم ته شیدې ورکوي، همدارنګه ډېر عمر لرونکو کسانو او ټولو روغتیایي ستونزو لرونکو وګړو لپاره تطبیقیږي. دا واکسینونه په کوویډ-19 د خلکو له اخته کېدو او همداراز د ویروس له خپریدنې مخنیوی کوي. واکسین همدارنګه کولی شي کوویډ-19 څخه رامنځته کېدونکو سختو ناروغیو څخه مخنیوی او د خلکو حفاظت وکړي. ددې ویروس په وړاندې حفاظت د واکسین د تطبیق له نیټې څخه دوه اونۍ وروسته موده کې تامینیږي. هغه واکسینونه چې باید دوه ډوزونه واخیستل شي، د دویم ډوز له اخیستلو وروسته د 2-1 اونیو موده کې خپل بشپړ اغیزمنتوب څرګندوي.

دا ټول واکسینونه د روغتیایي ستونزو لرونکو وګړو لپاره چې د زړه او سږي ناروغي، شکر، د وینې لوړ فشار ناروغي لري، خونډي او مصوون دي. دا واکسینونه همداراز آټو ایمیون لرونکو ناروغانو، د بدن کمزوري دفاعي سیسټم لرونکو ناروغانو چې د بدن دفاعي سیسټم یې د ناروغۍ او یا درملنې په پایله کې کمزوری شوی وي، خوندي او مصوون دی، خو ددې ډلې ناروغانو په منځ کې واکسین ډېر اغیزمن نه دی.

د کوویډ-19 واکسین اخیستلو وروسته به په دې ویروس ستاسو د اخته کېدو امکان لږ وي نو مهمه ده ترڅو ترهغه دمه د عامې روغتیا لارښووني او تدابیر تعقیب کړئ چې ډېر شمیر وګړي واکسین ترلاسه کوي. د واکسین د حفاظت د مودې اوږدوالي په اړه اوس مهال معلومات نشته. په راتلونکي کې به د واکسین د یو بل تقویه کوونکي ډوز سپارښتنه کیږي.

## د واکسین ترکیبات او حساسیتونه

واکسین په خپل ترکیب کې غوړ یا غوړي لرونکي مواد، مالګه، قند او بافر یا محلولونه لري. د واکسین په ترکیب کې هګۍ، جلاټین (د خنځیر غوښه)، لیټیکس، ګلوټین، حفاظتي مواد، انټي بیټیک، او المونیم نشته. د کوویډ-19 واکسین په وړاندې حساسیت ډېر لږ پیښیږي. حتی که چیرې تاسو د خوراکي موادو، دواګانو او چاپیریال سره حساسیت لرئ، د واکسین اخیستل خوندي او مصوون دی. که چیرې پولیتیلین ګلایکول، ترومیتامین، او یا پولی سوربیت سره حساسیت لرئ، د واکسین له اخیستلو مخکې له خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ.

شدید حساسیت یا (انافیلکسس) ډېر لږ پیښیږي. د واکسین حساسیتي غبرګون د علاج وړ او معمولا د لږې مودې لپاره وي. که چیرې تاسو د څا اخیستلو ستونزه لرئ او یا هم د مخ یا ستوني پړسوب لرئ، روغتیایي مرکز ته مراجعه وکړئ.

## واکسین کووید-19 فایزر-بایونتیک، مودرنا، استرازنیکا/کوویشیلد و جانسن

### جانبی عوارض او خطرونه

نږدې 20 سلنه خلک جانبي عوارض لري. ډیری جانبي عوارض خفیف وي او له یوې نه تر دریو ورځو موده کې له منځه ځي. په بدن کې د جانبي عوارضو رامنځته کیدل په دې معنی دی چې واکسین ستاسو د بدن محافظتي سیستم فعالوي.

**معمول جانبي عوارض په لاندې ډول دي:**

- د پوستکي سوروالی، د واکسین د تطبیق د ځای درد، خارښ او پړسوب
- تبه
- د سر درد
- ستومانتیا
- د عضلاتو درد
- د مفصلونو درد
- د یخنی احساس
- کانګي او زړه بدی

### مایوکاردیتیس او پیریکاردیتیس

- مایوکاردیتیس او پیروکاردیتیس د زړه په بیلابیلو برخو کې یو ډول التهاب دی.
- د کاناډا د عامي روغتیا اداره د واکسین له تطبیق وروسته د نویو ځوانانو او لویانو د وضعیت په اړه د رپوټونو څارنه کوي. ډیر شمیر پیښ شوي واقعات خفیف وو چې د دوا او استراحت په واسطه له منځه تللي دي.
- د واکسین له تطبیق وروسته د سیني درد، د ځا اخیستني ستونزې او د زده د ټکان په صورت کې روغتیایي مرکز ته مراجعه وکړئ.
- سره له دې هم د واکسین د اخیستلو او تطبیق سپارښتنه کیږي ځکه چې ګټې یې د ضرر په پرتله ډیرې زیاتي دي.

### د ویروس ناقل واکسینونو (استرازنیکا، کوویشیلډ، جانسن) له اخیستلو وروسته نادر جانبي عوارض

- په نادرو حالتونو کې د وینې لخته کیدو له ویروس ناقل واکسینونو سره ارتباط ښودل شوی دی. د واکسین له تطبیق څخه د 4-28 ورځو په موده کې د ساه د بندیدو، د سیني درد، د پښو پړسوب، د نس (معدې) نویو دردونو او یا لاپسې زیاتیدونکو دردونو، شدید سردرد او لاپسې زیاتیدونکي سردرد، د سترګو د لید کمزورتیا، (د واکسین د تطبیق له ناحیې پرته) د جلد پرمخ تورو داغونو د رامنځته کیدو په صورت کې، روغتیایي مرکز ته مراجعه وکړئ.

د واکسین پروړاندې ستاسو د بدن غبرګون او د 3 ورځو په موده کې ددې غبرګون د دوام په صورت کې خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ. د عامي روغتیا اداره رپوټ شوي جانبي عوارض ثبتوي ترڅو د واکسین د مصوونیت په باب ډاډ ترلاسه شي.

### د واکسین په تطبیق کې ځنډ

- که چیرې تبه یا د کووید-19 علایم لرئ، د علایمو له منځه تللو پورې د واکسین له اخیستلو ډډه وکړئ.
- که چیرې په کووید-19 اخته شخص سره مو نږدې اړیکه لرلې وي او له همدې امله له تاسو غوښتل شوي وي چې ځان قرنطین کړئ، هیله کیږي د واکسین د اخیستلو نیټه د قرنطین مودې بشپړیدو وروسته بل وخت ته پلان کړئ.

### خپل فامیلي ډاکټر سره مشوره وکړئ

په لاندې حالتونو کې، د واکسین له اخیستلو مخکې خپل فامیلي ډاکټر یا د حساسیت متخصص سره مشوره وکړئ:

که چیرې له داسې دواګانو څخه استفاده کوئ چې ستاسو د بدن دفاعي سیستم کمزوری کوي – کیدی شي چې تاسو خپلې دواګاني او واکسین په بیلو وختونو کې واخلئ.

که چیرې د کووید-19 د لومړي ډوز له اخیستلو وروسته مو حساسیت کړی وي.

که چیرې د هرډول واکسین له ترکیباتو سره حساسیت لرئ.

### تل د خپل ځان او نورو حفاظت وکړئ

ترهغه دمه چې ډیر شمیر خلک واکسین ترلاسه کوي، د عامي روغتیا تدابیر رعایت کړئ، ټولنیز واټن په پام کې ونیسئ، ماسک واغوندئ او که چیرې ناروغ یاست، په کور کې پاتې شئ ترڅو د کووید-19 او ددې ویروس نورو ډولونو په وړاندې حفاظت تامین شي.

**د لازیاتو معلوماتو لپاره:** خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ او یا هم toronto.ca/COVID19 ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

**مأخذ:** د واکسین د تطبیق ملي مشورتي کمیټه. *د کوویډ-19 د واکسین د کارولو په اړه سپارښتنې*.